دویمه کچه

# ویرونکې شپه

storyweaver PRATHAM BOOKS

التعليم فوق الجميع | education above all




**لیکوال:** هیلو انګلیش

**انځور ګر:** تاپاس ګوهه


THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire


Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .

**د قیصې وضاحت:**

یو ماښام هیواد او د هغه ملګري یو تړلي پارک ته ځي او یو ویجاړ کور ویني. دوی هلته له یو بیګانه شي سره مخ کیږي.

کلیمې او غږونه

**پریښودل**

ماشومانو پارک ته نږدې یو ویجاړ کور ولید.

**خلاصول**


هغوی د زنګیدا لپاره زنځیر را خلاص کړ.

**چیغې وهل**


کله چې ماشومان و ویریدل، نو چیغې یې کړې.

**د شپې شاپرک**

د شپې شاپرکو یوه ډله په نڅا راووتله.




ګل خان وویل: ” مونږ دې چیرته را وستلي یو. زه باید دلته نه وی.“
هیواد وویل: ” غلی شه له ځانه ماشوم مه جوړوه! دا یوائې یو پارک دی.“
ماری وویل: ” دا یو تړلی پارک دی، همداسې نده؟ مونږ ته اجازه نشته چې دلته لوبې وکړو.“ هیواد وویل: ” دا تړلی پارک نه دی. یوازې دا خبره ده چې دلته څوک نه راځي. مونږ لومړني کسان یو چې دلته راغلي یو.“




ګل خان وویل: ” په ښار کې خلګ وايي چې هیڅکله تړلي پارک ته مه ځئ. دا ځای پیریاني دی.“
هیواد وویل:
” دا ځای پیریاني نه دی. پیریان واقیعت نه لري. زه پوهیږم ځکه تر اوسه ما کوم پیری نده لیدلی. راځې چې لوبې وکړو.“
ماری وویل:
” ښه ده، دومره بده خبره نه ده. ښایي چې هیواد ریښتیا ووايي. کولی شو دلته لوبې وکړو، دا ځای ګواښونکی نه ده.“
ګل خان باوري نه ؤ، خو د هیواد خبره یې ومنله.




ماشومانو یوه زانګو را پیدا کړه او ځانونه يې پکې وزنګول.
زانګو په اوسپنيزو پايوو تړل شوې وه، داسې ښکاريده لکه ډير کلونه چې کارول شوې نه وي.
هيواد وويل: " زه تاسو سره د زانګو په لوبه کې مسابقه کوم."
ګل خان وويل: " ښه خبره ده. هر چا چې لوبه وبايلله هغه بايد دغه زنځير خلاص کړي."
ماری چې خپل لاسونه پورته، پورته اچول او منډې يې وهلې وې ويل: " زه تاسو دواړوه ماتوم او لوبه در څخه ګټم."



مارۍ وویل: ” سپوږمۍ ته وګورئ.“
ماشومان ستړي، ستړي کېدل او
سپوږمۍ ته یې کتل.
هیواد وویل: ” ډېر کله سپوږمۍ
دومره غټه نه وي.“
ګل خان وویل: ” کېدای شي دا پوره
سپوږمۍ وي. کله چې سپوږمۍ ځمکې
ته را نژدې شي، بیا په آسمان کې غټه
ښکاري.“
مارۍ وویل: ” ما داسې ګردجنه
سپوږمۍ نه وه لیدلې.“



ماشومانو خپلې لوبې کولې، ځانونه يې زنګول، ګډا يې کوله، سندرې يې ويلې او په شپه کې يې قيصې کولې.
کورته د تګ وخت ؤ، خو هيواد کوښښ کاوه چې ماشومانو ته د اوسيدو قناعت ورکړي.
هيواد سپوږمۍ ته کتل او وريځ يې وليده چې روانه وه، خو سپوږمۍ د وريځو تر شاه نه پټيده. سپوږمۍ د وريځو په مخ کې وه.
هيواد په دې سوچ ؤ چې څه خبره ده.



کله چې هیواد ماشومان له پارک څخه نوي ځای ته بوول وې ویل: ”اوه، دا یو ویجاړ کور دی.“

ګل خان هیواد ته وویل: ” ښه کار ونشو، دلته مونږ ته اجازه نشته چې و اوسیږو، کیدای شي دا ځای ګواښونکی وي.“

هیواد وویل: ” غلی شه، ولې له ویجاړو ځایونو څخه وویریږو.“ ګل خان وویل: ” که همدا اوس کور ته لاړ نشو، مونږ به ټول په ستونزو کې را ګیر شو. او کیدای شي دلته نور د لوبو اجازه نه وي.“



هیواد د ګل خان پروا ونکړه او خپله
پلټنه یې په ویجاړ کور کې پیل کړه.

ګل خان له کوره بهر ولاړ ؤ او له
ویرې د کور منځ ته نشوی تلی.

هیواد یو څوټک را پیدا کړ او ځمکه
یې پرې ټکوله.

هیواد وویل:
" هې، ما یو څه پیدا کړل. هغه یو کلک
اوسپنیز شی ټکاوه. فکر کوم دا یوه زړه
خزانه ده. کیدای شي په دې کې پیسې
وي. ګل خانه مرسته وکړه!"
خو ګل خان ځواب ورنکړ. " چیرته
یې، ګل خانه!"



ناڅاپه یو سپین سوری لرونکی کمیس را ښکاره شو او وې ویل: ” اووووه، لرې شئ! لرې شئ!“

هیواد چیغه کړه، ” پیری ده!“ او څوټک یې وغورځاوه او خپلې سترګې یې له ویرې وتړلې.



ناڅاپه د شپې شاپرکونو یوه ډله را والوته او په دغه ویجاړ کور یې سیورې را وغوړه وه.

هیواد چیغه کړه، "نه، نه!، او په ژړا یې پیل وکړ، فکر یې کاوه چې شاپرکونه په ده برید کوي. ګل خانه، ما له دغه ځایه در وباسه!"

ګل خان راغی او هیواد یې له لاسو را کش کړ، او ټول کورنو ته ستانه شول.




بله ورځ، هیواد دغه قیصه خپلو ملګرو ته وکړه. هغه د خزانې، پیري او شاپرکو په اړه خبرې وکړې.

هیواد وویل: ” فکر مې کاوه چې ژوند مې بایلود، خو زه ډېر زړه ور وم.“

مارى وویل: ” نه داسې نه ده، ته زړه ور نه وې، ما ستا په سترګو کې ویره لیده.“ هیواد وویل، ”څه؟“

مارى وویل: ” هغه زه وم او سپین کمیس مې اغوستی وه.“

هیواد وویل: ” نو بیا سپوږمۍ څه وه؟“ هیڅا ځواب ورنکړ.

**د قیصې اړوند پوښتنې:**

ترلي پارک ته د تګ نظریه د چا وه؟

ماشومانو له سپوږمۍ سره څه ولیدل؟

نهم مخ بیا ولولئ او وپوښتئ: ګل خان، هیواد ته څه نصیحت وکړ؟

یوولسم مخ ولولئ او وپوښتئ: هیواد په ویجاړ کور کې څه ولیدل؟

دیارلسم مخ ولولئ او وپوښتئ: مارې په کوم کار اعتراف وکړ؟

د ماشومانو پارک ته د تګ په اړه څه نظر لرئ؟

# لاربښودونکې پوښتنې

1. آیا کوم وخت مو خپل ملګري یا د کورنۍ غړو سره دوکه کړې ده؟ که مو کړې وي، نو د هغوی غبرګون څه وو؟
2. آیا په پیریانو باور لرئ؟ ولې؟ ولې نه؟
3. پوره سپوږمې کومه وي؟ په شپه کې د سپوږمۍ ځانګړتیاوې کومې دي؟
4. څه فکر کوئ چې ماشومانو څه وکړل؟ آیا دا سمه ده چې تړلي پارک ته یواځې لاړ شئ؟ آیا داسې کوم کار کوئ؟
5. د کوم یوه عادتونه ستاسو په شان دي، د هیواد، ماري یا د ګل خان؟